ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

# پۀ پښتو ټپه کښې د مسافرۍ ځرک


- Hanif Ullah[1]
- Faheem Khan[2]
- Dr. Mazhar Ahmad[3]


Abstract:

*The article explores the rich tradition of Tapa in Pashto literature, highlighting its significance as one of the oldest genres among the Pashtuns. It describes Tapa as the foundation of Pashto literature, characterized by its brevity and thematic diversity. While Tapa remains unique to Pashto literature, the article acknowledges similarities with the Mahya genre in Punjabi literature. It emphasizes Tapa's thematic range, encompassing religious, ethical, historical, and cultural subjects, as well as its reflection of Pashtun life and values. Additionally, the article underscores the importance of travelers abroad in Pashtun cultural life and its influence on Tapa.*

ټپه زمونږ سره د پښتو اولسي ادب يو اهم او ډېر زوړ صنف دے ـ ځومره چې زمونږ سره د پښتنو تاريخ پخوانے دےاو زرګونه کلونه وړاندې آثار لري ـ هم دغسې ټپه هم د پښتنو د تاريخ پۀ شان پخواني آثار لري ـ د محمد افضل رضا وېنا ده چې پښتو ټپه د اميرکروړبابا ۱۳۹ه د نظم نه هم زر کاله مشره او وړاندې معلومېږي ـ لکه وائي

"محققین اس بات پر متفق ہیں۔ کہ پشتو کی شعر کی ابتداٹپہ یا لنڈئ سے ہوئ۔ جو لوک گیتو کی اہم ترین صنف ہے۔
لنڈئ کا وجود پشتو کی پہلی معلوم شدہ نظم امیر کروڑ 139ھ سے ہزار سال قبل بتایا جاتا ہے"[1]

بل خوا د ټپې د زوړوالي او قدامت پۀ حواله افضل رضا د سلطان محمود غزنوي د لښکر ذکر کوي ـ او د ملک خالو خان د چنغلې د خولې دا ټپه ذکر کوي ـ لکه وائي

"پشتو ٹپے کی قدامت کے بارے میں "تاریخ خورشید جہان" کے مصنف شیر محمد خان گنڈہپور لکھتے ہیں۔ کہ سلطان محمود غزنوی (400ھ) کے لشکر میں ملک خالو نامی ایک سردار تھا۔ جو درہ گومل کا باشندہ تھا۔ ہندوستان کے فتوحات کے سلسلے میں جب محمود غزنوی کا لشکر درہ گومل سے گزر رہا تھا تو ایسے موقع پر ملک خالو کی منگیتر کی زبان پر یہ ٹپہ آیا -

چې د خالو لښکرې راشي

---

[1] PhD Research Scholar, Department of Pashto, University of Malakand.
[2] PhD Research Scholar, Department of Pashto, University of Malakand.
[3] Assistant Professor, Department of Pashto, University of Malakand.

زۀ به ګومل ته د خپل یار دیدن له ځمه"[2]

ټپې ته مختلف نومونه ورکړے شوي دي ۔ لکه ټپه ،لنډۍ، مصره او بیا د دې نومونو وجه تسمیه هم بیان شوې ده۔ او یا د یوې علاقې د یو مشهور نوم پۀ وجه پۀ جدا جدا نومونو بللے شوې ده۔ټپه پۀ پښتو اولسي صنفونو کښې د ټولو نه اهم او پخوانے صنف دے، او د اولس د هرې طبقې زړۀ ته نزدې دے ۔پۀ دې کښې زمونږ تهذیب، تمدن ،ثقافت،اولسي ژوند ، تاریخ، وطن، قوم، سیاست، مذهب، اخلاق، انسانیت، توقې ټقالې،مسخرې،طنزو مزاح،حسن و عشق،هجران وصال، ننګ غېرت،او پښتونولي غرض د ژوند هر اړخیزه عکاسي کوي۔

پۀ هئیتي ډول سره د ټپې دوه مصرې وي ۔ اوله مصره نهه چپې او دویمه مصره دیارلس چپې وي۔او بدلون پکښې کله هم نه راځي۔ ضروري نۀ وي چې د ټپې دواړه مصرې هم قافیه وي۔ خو دویمه مصره اکثر پۀ "نه، مه، له او هه" سره ختمیږي۔ټولې ټپې یو وزن او بحر لري۔ د بعضې ټپو اوله مصره د دویمې مصرې د پنځوؤ چپو سره هم قافیه وي۔ لکه

"زما د عمر سره سمه

میرات شي غمه پۀ خندا دې تېرومه"[3]

ټپه ډېر مختصر صنف وے ۔د موضوع پۀ لحاظ سره د ټپې څۀ خاص او ټرلې موضوع نۀ وي ۔ هره موضوع پـه غېږ کښې ځاے کوي۔ فصاحت او بلاغت پکښې وي۔ لکه صفائي، سادګي، رواني، اختصار، تشبیهـ ، استعاره ،محاوره، روزمره،ترکیبونه، سوزوګداز،جامعیت وغیره، او بل دَ کمال تر حده موسقیت پکښې وي۔ دَ موسیقۍ د هرې آلې سره وئیلے شي، او ډېر طرزونه لري۔د ټپې آهنګ ډېر دردناک وي۔ ټپه د چا ملکیت نۀ وي۔خالق یې ټول عوام وي، او د هر چا میراث وي۔اکثر پۀ یوه موضوع ټپې د نظم پۀ شان تسلسل لري۔

پۀ ټپه کښې د نورو ډېرو موضوعاتو پۀ شان د مسافرۍ ذکر هم ډېر ښکاره او جوّت پۀ نظر راځي، پښتو ټپه د سفر باره کښې ډېره برخه لري ۔ او د سفر خواږۀ تراخۀ حالات پکښې محفوظ دي۔ عمومي طور سره پښتانۀ د ازله د سفر شوقیان دي ۔ او د ژوند ډېره برخه یې پۀ سفر کښې تېریږي۔

اول خو د معاش یا د ځائے د تنګون له کبله قومونه او قبیلې د ټولګو پۀ شکل کښې هم تشکیل کیږي،او سفر کوي د ښه استوګنې ځایونه لټوي۔او بل خوا زلمي یواځې هم سفر کوي، او د خپل غربت او تعلیم

لپاره يو اځې ډېرې لرې لرې سفرې کوي .له بده مرغهٔ خو اول د پښتنو زيات آثار د خپلې لاعلمۍ له وجې هم ورک دي . او پهٔ نظر نه راځي،او بل پښتانهٔ خپل ژوند او حالات ډېر کم د قلم څوکې ته سپاري . د خپلو د سفرنامو د درج کولو او محفوظ کولو د عمل نه نا خبره وي .خو د ټپې پهٔ شکل کښې زمونږ سره د سفر پهٔ حواله ډېرمعلومات بيا هم خوندي دي او د مشرانو نه مونږ ته پاتې دي .

پهٔ انسانانو کښې د قيصو اوريدو شوق له ازله پروت دے، او بيا پښتانهٔ خو په حجرو او ډبو قيصي اوري، چې د ژوند د هر اړخ سره تعلق او اړوند لري، نو داسې د سفر د قيصو اورېدو سره هم يو زلمي د سفر تللو تلوسه لرلې ده او وايي چې

" دا زړهٔ مې داسې راته وائي

راشه ملنګ شه د دنيا اوکړه سېلونه"[4]

د پښتنو سفر اکثر د مالي بدحالۍ د دوتر جائداد مسلې او يا د ناکامه مينې د لاسه وي .يا خو د غربت د خاتمې لار سفر اوګرځي يا د دشمنۍ د لاسه سفري شي .او بله وجه د پښتني معاشري دا هم ده .چې کله د دوؤ مئينو پهٔ مينځ کښې څهٔ خنډ جوړ شي، او خپله مينه ورته ملاؤ نهٔ شي نو د محبوبې د پاره وطن پرېږدي او د هغې د حصول د پاره مسافر شي لکه يوه معشوقه خپل عاشق ته د مسافرۍ لپاره داسې وايي .

"هندوستانے شه روپۍ راوړه

په کورنو روپو مې مور نهٔ درکوينه "[5]

يو خوا کهٔ څوک د خپل شوق او د زړهٔ د رضا د پاره سفر کوي او خپل خوږ وطن پرېږدي نو بل خواد غربت او تنګدستۍ د لاسه هم سفر کوي . پهٔ يوه ټپه کښې داسې راغلي دي چې!

"څوک پهٔ رضا د ملکه نه ځي

يا ډېر غريب شي يا د يار له غمه ځينه"[6]

خو دا د غربت سفر د مينې او پېغور نه سترګې پټول او سفر کول صرف د ځوانانو او زلمو کار دے .د يوې پېغلې د پاره نهٔ خو د غربت او نهٔ د مينې لپاره د کور نه د وتو اجازت دے .ځکه چې د پښتو يو مشهور متل دے چې ښځه يا د کور وي يا د ګور، او د دې متل په ځاے راوړلو د پاره دا ټپه يو کلک ثبوت دے لکه وايي .

"هلک میئن شي وطن پرېږدي

جینۍ میئنه شي مخ پټ کړي اوژاړینه"[7]

کله خو به مسافر پۀ پټه د کور او محبوبې نه هم سفر ته تللو هغوي به يې نۀ خبرول، او ډېرې ورځې پس به ترې خلق او محبوبه خبر شول لکه يوه محبوبه د خپل جانان باره کښې داسې وايي.

"جانان مې هيڅ نۀ معلومېږي

راته ښکارېږي پۀ سفر به تلے وينه"[8]

او کله چې به د مسافر د تلو نه خلق او معشوقه خبر وو نو بيا به ئې يو بل ته د راز او نياز خبرې کولې. د جدايۍ پۀ غم به غمجن وو. لکه يو عاشق خپلې محبوبې ته داسې وايئ.

"زۀ درنه لاړم مسافر شوم

خو تۀ دعا راته کوه چې خوشحال يمه"[9]

پۀ داسې موقع به معشوقه هم د جدايۍ د بلا نه ويرژنه وه او مسافر ته به ئې د پاتې کېدو تاکيد کولو لکه وائي.

" مسافري سخته خواري ده

زما زاري دا ياره مه ځه له وطنه"[10]

او معشوقې به هغه ته پۀ مسافرۍ کښې د خپل نشتوالي احساس داسې ورکولو چې ته به بيا هلته څۀ کوې چې زما ديدن به نۀ وي ستا گزران به مشکل وي لکه وايي.

"چې مسافر شوې نو به څۀ خورې

کور دې خوراک ؤ د سورکو شونډو سرونه"[11]

خو د دې منّت زارۍ باوجود به هم مسافر د تلو تکل کړے وو او د معشوقې پۀ منّتونو به نۀ پاتې کېدو، د سفر لپاره به يې اراده وه نو معشوقې به يې وئيل.

"مسافرۍ ته دې ځان جوړ کړو

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

پهٔ چا مې سپارې کهٔ دې هېره کړم مئينه"[12]

چې بيا د مسافر روانېدو وخت راشي او غوټه پنډوکے وتړي د سفر موزې پهٔ پښو کړي د جدا کېدو وخت راشي نو مسافر هغه د کور خلقو ته وائي۔

"ما د سفر موزې پهٔ پښو کړې

د زړهٔ ګلو باغ پهٔ خدائے سپارم مينه"[13]

"اس مې زين کړے دے روان يم

زه مسافر د لږ ساعت راغلے يمه"[14]

يو بل ځائے کښې د مسافر د رخصتېدو دا منظر پهٔ ټپو کښې پهٔ مکالماتي انداز راغلے دے لکه يو عاشق او معشوقه يو بل ته داسې وائي چې!

لالے: اس مې زين کړے روانېږم

زهٔ مسافر د لوئې لار يم درنه ځمه

ليلیٰ: اس دې زين کړے روانيږې

زهٔ نيمه خوا نيمګړې چا ته پاتې شومه

لالے: تهٔ فکر مهٔ کړه بيا به راشم

کهٔ هر څهٔ کيږي تا به ځان سره بوځمه

ليلیٰ: ما به د ځان سره څهٔ بوځې

زهٔ پښتنه يم مينه نهٔ رسوا کومه

لالے: زما دې ستا پهٔ سر قسم وي

کهٔ پهٔ هر ځائے يم ګلې تا به يادوومه

ليلیٰ: ورځه ورځه پهٔ مخ دې ښه شه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

ترله دې خپله پۀ نامه دې ناسته يمه"[15]

کله چې د مسافر د رخصتيدو وخت راشي نو د کور خلق هم ډير زيات فکرمند وي او د هغه پۀ تللو او د هغه نه د کلونو پۀ جدائۍ خفه وي،د نېکخواهۍ او سکون دعا ورته کوي لکه وايي،

"مسافري سخته خواري ده

سخته ئې مۀ کړې زما ورور پۀ سفر ځينه"[16]

بل خوا مسافر هم بيا پۀ مسافرۍ کښې خفه او دلګير وي او د مسافرۍ سختو خفه کړے وي۔د خپلو خپلوانو او کور کلي نه لرې ژوند کوي او د بل ملک بې قدرۍ ورسره مخ شوي وي نو زړۀ ئې راډک شوے وي۔ کله ورته خپل خپلوان يادېږي، کله کور کلے وطن او کله خپله محبوبه چنغله او يوائې اوښکې تويوي۔پۀ ژړا د زړۀ غم سپکوي او د وطن او وصال سندرې وائي لکه دا ټپې۔

" زما دې څۀ نصيب کړو خدايه

يو مسافر شوم بل د ياره جدا شومه

سپينې سپوږمۍ حال راته وايه

چې مې لالے مجلس د چا سره کوينه"[17]

"څوک مسافر مه کړې اے خدايه

زۀ ستا پۀ در کښې دغه سوال مدام کوۀمه"[18]

کوم وخت چې څوک مسافر شي او د وطن کلي خپلوانو او يارانو ديدنونه ترې پاتي شي نو پۀ خطونو او پېغامونو خپل زړۀ ښه کوي۔خپل احوال يو بل ته ليږي راليږي او د خطونو، پېغامونو انتظار کوي لکه د قلم او خطونو دا ذکر پۀ ټپه کښې داسې شوے دے۔

"مسافري پرې اسانيږي

چې ورته خوږ جانان ليږي رنګ رنګ خطونه"[19]

"زمونږه تور غرونه تر مېنځ شول

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

اوس به خبرې د قلم پهٔ خولهٔ کوؤنه"[20]

خطونو پېغامونه د کور له طرفه هم لېږلے کېږي او د مسافر له طرفه هم. بس خو چې پهٔ چا يادونه زورور شي نو قلم او کاغذ ته لاس کړي او هغه خبرې پرې درج کړي او بيا ئې پهٔ څهٔ طريقه خپل جانان او عزيز ته رسوي. لکه د کور له طرفه خط پهٔ ټپه کښې داسې بيان شوے دے.

" خطه د خدائے د پاره ورشه

پهٔ مسافر جانان مې وايه سلامونه"[21]

"قلمه راشه کاغذ ليک کړه

قاصد دَ يار پهٔ لوري ځي ناوخته شونه"[22]

"مسافري دې روزي مهٔ شه

زهٔ دې پهٔ سپينه خولهٔ اوده پرېښې يمه"[23]

"جانانه خپل وطن ته راشه

کهٔ خلق ډېر دي پرې اباد دي خپل کورونه"[24]

يو خوا کهٔ د کور خلقو د مسافر د پاره خطونه ليکل او استوّل نو هم دغسې خطونه به د جانان مسافر له خوا هم راتلل. او مسافر به پکښې خپل د زړهٔ حالونه ليکل لکه وائي.

"کاغذه ورشه ورته وايه

يار به دې تل مسافر نهٔ وي رابه شينه"[25]

" کاغذ چې درشي زړهٔ دې ټينګ کړه

پهٔ زړهٔ غمژن يم وارخطا مهٔ شې مئينه"[26]

" کاغذه ورشه ورته وايه

پهٔ غم کښې ډوب اشنا دې ډېر ډېر يادوينه"[27]

" تۀ پۀ وطن خوشحاله ګرځه

زۀ پۀ پردیس کښېږ بې اسرې ژوند تېرومه"[28]

مسافر کۀ به ډېر خفه او دلګیر هم وُ نو بل خواه به د هغه زړۀ پۀ دې خبره جمع او ډاډه وُ چې د هغۀ محبوبه یا چنغله به د هغۀ پۀ پت کښې ژوند کاوه او د مسافر پۀ نامه به ناسته وه لکه وائي چې

"پۀ هندوستان خوشحاله ګرځه

ترله دې خپله پۀ نامه دې ناسته یمه"[29]

"خپل مسافر جانان د پاره

مدام د لویو او ورو خبرې ورمه"[30]

هم دغه پتمنه د مسافر لپاره پت کوي خو پۀ زړۀ ئې هر وخت دَ مسافر د راتلو ارمان غزوني کوي لکه وائي

"چې مسافر جانان مې راشي

پۀ دنداسه به ورته شونډې سرې کومه

اے مسافر جانانه راشه

نور مې د زړۀ صبر تمام شو مړه به شمه"[31]

پۀ پښتنو کښې دا روایت هم شته دے چې کله د څۀ زیرې پۀ امید وي نو د هغۀ زیرې لپاره منختې کوي او نزّر مني۔لکه د مسافرو لپاره هم دغه زیرې او منختې داسې ذکر دي۔

"که د یار غږ راباندې اوشو

د لاس بنګړي به پۀ خېرات کښې ورکومه

کۀ چا وئیل چې یار دې راغے

د سر سالو به خېراتې ورکړم مئینه"[32]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

او اخر هغه ورځ هم راشي چې د مسافر د راتلو هغه زیرے ئې تر غوږ شي او د خوشحالۍ انتها نۀ لري وائي چې

"پۀ وطن ستا د راتلو غږ شو

صورت مې پاڼې زړۀ مې ګل اوغوړيدونه

نن مې د يار د راتلو غږ دے

ما له د چم جينكۍ زيري له راځينه"[33]

د ډېر غم زغم صبر او انتظار نه پس هغه ورځ او وخت هم راشي چې د مسافر د هركلي د پاره خلق لارو كوڅو ته راوځي او د هغه د ديدار منتظر وي ـ دَ دغي وخت د يوې پېغلې او چنغلې د زړۀ د اواز عكاسي داسې شوې ده ـ

" د مسافر اشنا د پاره

تلي مې سوزي پۀ غرمو ولاړه يمه

نن مې د يار د راتلو غږ شو

پۀ ډېر خاتۀ مې پردے بام اونړؤنه"[34]

يو وخت داسې هم راشي چې د كور د خلقو يا د محبوبې كوم انتظار وي او د مسافر ديدار كول غواړي نو هغه ديدار ئې هم نصيب شي پۀ كوم پسې چې ئې سترګې په لار او زړۀ پۀ درزار وي ـ

"مسافرۍ خوړلي ياره

پېزار اوباسه چې تلي دې ښكلومه

مسافرۍ نه سترے مۀ شې

اول غېږ دركړم كۀ د جېب اولټومه

مسافر ګله سترې مۀ شې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

ورمبې خولۀ واخله بيا به اووائې حالونه"[35]

د دغه سترې مشې او دعا سلام نه پس چې کله مسافر ساه صورت شي نو د کور خلقو له ئې تحفې راورې وي او هغۀ خپلې غاړې غوټې بر څېره کړې او تحفې ويشل شروع کړې.هر چا ته خپله تحفه ملاؤ شي . پۀ دې صورت کښې يوه چنغله داسې خپلو همزولو ته وائي .

پۀ جوپه تلے يار مې راغے

ما لا ئې راوړلو د غاړې اميلونه"[36]

هم دا د ټپې په باب له د مسافرۍ يوه وړه شان تجزيه وه .ټپه زمونږ سره د هر يو قديم او جديد رجحان اندازه او احاطه کوي او هم دا يې د مقبوليت جواز دے.

حوالې

---

[1] رضا محمد افضل ،پشتو لوک ادب،النور پرنټرز بليو ايريا اسلاماباد ـ.فروري١٩٨٩ء مخ١٨

[2] هم دغه مخ ٢٠

[3] داود داور خان ،پښتو ټپه،يونيورسټي نک ايجنسي خيبر بازار پېښور،مخ٣٨

[4] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ١٩٨٠ء مخ١٢٤

[5] هم دغه مخ ١٢۶

[6] داود داور خان ،پښتو ټپه،يونيورسټي نک ايجنسي خيبر بازار پېښور،مخ٣٧

[7] ډاکټر سلمى شاهين،روهي سندرې(ټپې)،جدونپرنټنګ پرېس پېښور ،اشاعت دويم٢٠١٣ء مخ۶٣٨

[8] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ١٩٨٠ء مخ١٢٧

[9] حېران محمد اقبال،يکه زار،زيب ارټ پبلشرز نحله جنګي پېښور،دويم چاپ٢٠١٩ءمخ١۴٧

[10] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ١٩٨٠ء مخ١٢٩

[11] ډاکټر سلمى شاهين،روهي سندرې(ټپې)،جدونپرنټنګ پرېس پېښور ،اشاعت دويم٢٠١٣ء مخ٢٢۶

[12] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ١٩٨٠ء مخ١٢٩

[13] داود داور خان ،پښتو ټپه،يونيورسټي نک ايجنسي خيبر بازار پېښور،مخ۶٩

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.3 2023

[14] هم دغه مخ ۷۰
[15] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ۱۹۸۰ء مخ ۱۳۲ ۱۳۳
[16] هم دغه مخ ۱۳۵
[17] هم دغه مخ ۱۴۰
[18] حېران محمد اقبال،یکه زار،زیب ارټ پبلشرز نحله جنګي پېښور،دویم چاپ ۲۰۱۹ء مخ ۱۴۹
[19] هم دغه مخ ۱۴۸
[20] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ۱۹۸۰ء مخ ۱۴۳
[21] حېران محمد اقبال،یکه زار،زیب ارټ پبلشرز نحله جنګي پېښور،دویم چاپ ۲۰۱۹ء مخ ۱۴۸
[22] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ۱۹۸۰ء مخ ۱۴۳
[23] ۱۴۷ هم دغه مخ
[24] هم دغه مخ ۱۴۷
[25] هم دغه مخ ۱۴۴
[26] هم دغه مخ ۱۴۵
[27] هم دغه مخ ۱۴۶
[28] هم دغه مخ ۱۴۶
[29] داود داور خان ،پښتو ټپه،یونیورسټي نک ایجنسي خیبر بازار پېښور،مخ ۷۴
[30] حېران محمد اقبال،یکه زار،زیب ارټ پبلشرز نحله جنګي پېښور،دویم چاپ ۲۰۱۹ء مخ ۱۴۹
[31] هم دغه مخ ۱۴۸ ـ ۱۴۹
[32] طائر محمد نواز،ټپه او ژوند ،غني پرنټرزمحله جنګي پېښور ښهر ۱۹۸۰ء مخ ۱۵۰
[33] هم دغه مخ ۱۵۱
[34] هم دغه مخ ۱۵۲
[35] هم دغه مخ ۱۵۳
[36] هم دغه مخ ۱۵۳